مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۵/۱۵

لنډی، د ثبتولو ستونزه

اوه شپېتمه برخه

نوې اختریزې لنډۍ

دویمه برخه

پرېږده چې ټول کلی خبر شي
اختر نږدې دی په ټیکري دې نوم لیکمه

خلکه! زما به څه اختر وي
چې بېلتانه راته خیمې وهلې دینه

که دې اختر په شپه رانغلې
درته ترخه شه د لندن ښکلي واټونه

میاشت د اختر ښکلی ښکاره شوه
د یار د مخ سپوږمۍ به کله ښکاره شینه

نن د اختر دریمه او وروستۍ ورځ ده، زه به پرته له تبصرې د اختریزو لنډیو دا برخه وړاندې کړم:

اختر ته نوې جامې وکړه
که خیر بل ځلې به خامخا درځمه

پرېږده چې ټول کلی خبر شي
اختر نږدې دی په ټیکري دې نوم لیکمه

چې اختر راشي موزې پټ شي
اختر چې تېر شي موزې بیا راښکاره شینه

خلك اختر له جامې مینځي
زه په ګولو ویشتلی زړه تکورومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلکه! زما به څه اختر وي
چې بېلتانه راته خیمې وهلي دینه

د غم اختر د غم سیلونه
د غم بازار دغم سودا په کې کومه

که دې اختر په شپه رانغلې
درته ترخه شه د لندن ښکلي واټونه

میاشت د اختر ښکلی ښکاره شوه
د یار د مخ سپوږمۍ به کله ښکاره شینه

د اختر ورځ ده یار مې نه شته
ځکه خندا رانه تړلي دي بارونه

چې مازیګر شي ښکته لمر شي
په چا اختر شي څوك د غم ژړا کوینه

دا اوسنی به څه اختر وي
چې خوښي نه شته هره خول دلې ویرونه

چې ته رانغلې اختر څه کړم
زما اختر او خوشالي په تا کې دینه

زما نصیب کې جانان نه شته
که سل اختره په یوه کال کې راشینه

اختر کې ټول عالم خوشال وي
زه یک تنها بې یاره ښکته پورته ځمه

ګل مې په لاس کې راته وچ شو
چې ته رانغلې، زه بې اور ته واچومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ